ليکوال: عبدالقيوم امريکا، نيټه ۰۳-۱۲-۲۰۱۰

# ځوک چي بهادر او قهرمان ؤ هغه(غازي صاحب خان) ؤ.

د۱۲۵۶هجري  قمري کال دعقرب له مياشتي څخه راشروع د ۱۲۵۸هجري قمري کال تر سنبلې پوري دغه ۲۳ مياشتي وخت تاريخونه دانګريزانو دفوځي دوهم واري يرغل او دافغانانود غښتلي او بي ساري مقاومت له خپل کورکلي، هيواد اوناموس څخه ساتني ته.
دافغان او انګلس تر منځ د دوهمي جګړی نوم  ورکړل سوېدي.
پردي خاوره دتاريخ په اوږدوکښي دجهان ليري او نژدي، ټولو زبر ځواکوځان يوځل  نه حتي دوه دري ځله خپل بخت ازمائيلې دي. دا دانګريزانو دوهمه ځل تيري و.
ددې نابرابره او ظالمانه تيري په وړاندي دافغانستان دټولو ولايتونو، ټولو قومونو، ژبو او مذهبونو لرونکي او اوسيدونکي سره په ګډه وجنګيدل، شهيدان سول، زخميان سول، موربې زويه، پلار بې زويه، زوي بې پلاره بې وروره، خور له هرڅه خلاصه سول. دخپلو دوستانو اوعزيزان دژوند اخستلو او دلاسه ورکولو په قيمت يې دا وطن دپرديو دلښ نظامی تيريو څخه په امان او خوندي کړي. خو....نه ورسره پردي وسلي وي نه پردې پيسي، يوازي افغاني غرور او اسلامي جذبه او بس.
په افسوز نه وايم چي دکور دننه، په ږيره، کالو، خبروکي زموږ په شان، مګر په اصل کي شيطان او دانګريز انو دګټو ساتونکو، زموږ دولس دحقونو پايماله ونکو ته مو هميشه دهيواد داقتدار واکې سپارلې او بيا مو خپله ده هغوي څخه ښه ورځ نه ده ليدلي.
هغوي چي پروضع مسلط کړل سويدي دخپل اقتدار څخه يې نا جايزه ګټه پورته کړې ده. اول يې خپل وژلي دي. مولاً نا ګوهرالرحمن په خپل تاليف اسلامي سياست کي ليکي: «چي اصولاً داسلام له مخي، ګرد هغه حکومتونه، چي دحضرت رسول الله (ص) پر تګلاره نه ځي. هغه به ظالم او  مستبد حکومتونه وي، چي دزرو او دسيسو په وسيله استواروي. او دظلم په واسطه به حکومت کوي».  ښاغلی علامه عبدالشکور «رشاد» صاحب د خپل شعرپه يو بيت کي وايې :(داباز ندي ټپوس دي چي وهي دخپل کور چرګي). رښتيا موږ ټپوسانو وخوړو. ددوي ناجأيزه کړنې يوازي دمځکو، کورونو، رشوتونو، مقام او منصبونو غلاوي نه وي. بلکي دولسونو، قومونو، قهرمانانو افتخارات يې غلا کول. دهغوي افتخارات يې خپلی کورنی، دوستانو او يا خيل ته  منسوبول، څو دوخت په تيريدو داصلې قهرمانانو نوم ورک او خاطري يې په ولس کي د فرعي قهرمانانو په نوم پوري وتړل سي. تاسي څو ورځې مخکي وليدل چي دملا منصور په نوم (جعلي) ملأ منصور يې جوړ کړي و. انګريز، امريکا او دافغانستان ټولو ټکانو  پيسي  پر واخستي خبره ورکه سول. دا ښار ناپرسان دي. وايې: چي ډير کلونه مخکي دپيښور پر علاقه يو مشاعره وه. هغه وخت (رحمن بابا) نوي ځوان و. دخپلو اشعار په برکت خلکو په غياب کښي پيژندي مګر په رنګ خلکو نه پيژندي. رحمن بابا دمشاعري دي غونډې ته راغلي وو دنور راغلو په شان ليري ناست و، دشاعرانو له جملي يو ځوان شاعر دعبدالرحمن په نوم درحمان بابا يو نه دوشعرونه په خپل نوم ولوستل اوهم يې خپل ځان درحمن په نوم معرفي کړي. په هغه زمانه کي رحمان بابا دخپلو اشعار په ورستيوکي ځان درحمن په نوم ليکې. نو رحمن بابا چي خپله حضور لاره ولاړ سو دمشاعري ګډون والو ته يې وويل: «ما دبل دشعرونو دغلا اوريدلی وه، مګر دشاعر دغلاکيدونه  دادي هغه مي هم دلته وليدل». له دغي ورځې نه پس رحمان بابا وپيژندل سو. والله‌ُ لعلم.
 ددي هيواد ډيرو ميړنيو دافغان او انګلس په دوهمه جګړه کي قهرمانې کړيدي، چي له هغو جملی څخه (غازي صاحب خان او دهغه ورور غازي پيرمحمد خان) هم وه. انګريزانو د۱۲۵۶ هجري کال تر ورستيو پوري پدي ونه توانيدل چي له کندهاره بيا تر کابل پوري پر دي علاقه خپله سلطه برقراره کړي. له دوي(انګريزانو) سره دالفنستون خاطرات او دافغانان او انګليس دلمړی نا کامي جګړي ټول اسناد او مدارک موجود وه. دنظامي افسر بريډمن وينسنيټ اير ديوبندی خاطرات يې لوستي وه. نو داځل انګريزانو له ډير احتياطه کار اخستی او پردې علاقه يې په جرأت بريد نسواي کولاي، بل دلمړي جګړي فقط (۳۵) کاله تيرسوي وه. ددوي دتيري او ظلم خاطري داکثريت ولس په ذهن کي ژوندی وې. بل دخلګو په منځ کي يې همره جاسوسان، د وطن دنور برخو په اندازه نه لرل چي بريالی کارونه و کولای سي، يوبل سبب يې سوړ ژمي وو. پدې کال دونه واوري ولويدې چي لاس له بغله په مشکل سره جلاکيدي. حتي ۱۲۵۷ هجري کال د ثورپه مياشت کي لا دتللو لاري د زياتو واورو اوريدو له اثره بندي پاته وي. دجوزا دمياشتي تر پنځلسو ورسته دکليو خلګو وکولای سواي دنور کليو څخه  خبر واخلي. څو د انګريز سره مقابلي ته چمتو سي.دغزنې، قلات په علاقو کښي ډير مخور مشران وه. خو دملأ دين محمد مشهور په ملامشک عالم مشرتوب دعمر اوعلم له برکته هرچاه بيله مشکله منی. کله چي دملامشک عالم تر مشري لاندی مشران سره جرګه


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

شول، فیصله وسول چي په دوو استقامتو باید له انګریز سره وجنګیږو. یو دمیدان ښار او کابل پر لور بل کندهار او ذابل پر لور. دکابل او میدان پر لور دمحاذمشر(عبدالکریم خان) دملامشک عالم مشر زوي، او دکندهار او ذابل پر لور دمحاذ مشر (غازي صاحب خان) تعین سول. دکابل پرلور ورسره مل عبدالقادرخان غزنوی، ملأ عبدالغفور خان لنګري ګل محمد خان اندړ. دکندهارپرلور دوه وروڼه پیر محمد خان او په خپله (غازي صاحب خان) وه. ددوهم جنګ د مشهورو مشرانو او غازیانو دنومونو شمیره تاریخونه وایې چي درو (۳) زروته رسی.

جرګه وال کلیو ته ولاړه دسړو، وسلو اوخرڅ په جمعه کولو لګیاسول، دنور قومونو دمشرانو سره یې تماسونه ټینګ کړل. هلته په کابل کي دامیر شیرعلي خان تیښته، دیعقوب خان پاچاکیدل، دګندمک دلوز نامي امضأ، د اوردو پاشل کیدل، په کابل کي دانګلیس پرسفارت دخلګو هجوم، دسفیر«کیوناري» وژنه. دشمال له لوري دعبدالرحمن خان پیش روي. وضعه ډیره پیچلي او مغلقه کړې وه. دجنګ دجبهو تر منځ ارتباط ډیر مشکل وو. حتي ورځي ورځي پرتیریدي چي څنګه مشترک عملیات پر مخ بوزی. ارتبا ط یوازی دسړو او نماینده په استولو سره تامین کیدې. دیوه منظم آوردوسره په تش لاس، لڅ بدن، تش نس، توره او دامپور زاړه تو پک، هغه ته هم نه مرمی. او دادوهم جنګ له انګریز سره تر لمړي جنګ ډیر سخت وو. پدي چي انګریزانو ته په لمړي جنګ کښي عمده مشکل دخپلو اکمالاتو د رارسولوخبره وه، خوداځل یې هغه مشکل حل و. هرڅه تر چمن او پیښاورپوري ورته په موترو اورګاډي کي راتلل.

نو کله چي غازي صاحب خان اوغازي پیر محمد خان خپل پنځه زره کسیز فوځ سره سم کړي دکندهار پر لوریې حرکت وکړي. دغزني او کندهار تر منځ څه کم دري سوه کیلومتره دجوړي لاري فاصیله ده. هغه وخت لاره ګودراو پلونه نه وه، پرکړو لارو باندي پر لړ وخرو او څه اوښانو دخرڅ رسول څه آسانه کار نه وو. تولـه لاره سختو ختو مشکله کړي وه پر انسانانو علاوه دحیواناتو تلل دخنډو سره مخامخ وه. دعقرب دمیاشتي په لومړیو کي شاه جوئ ته په وررسیدلو، هلته له کندهار څخه انګریزي قواوي په افغانستان کي دخپل لوي قوماندان جنرال(رابرت) په امرجنرال (استورات) تر رهبرۍلاندي دکابل پرلور تلې. څو په کابل کښي دپرتو انګریزي قواوو مرستي ته ځانونه ورسوي. اوهلته دهغو مجاهدو ضد وجنګیږي کوم چي پر کابل یې هجوم وروړي وه. دهغوغازیانو فشار کم کړي، خوشبختانه دا ارمارن یې له ناکامي او ناأ میدي سره ګورته یوړي. دشاه جوئ پرعلاقه یې ملي بهادر مجاهد غازي صاحب خان دخپلو(پنځوزرو) ملګرو سره یوځاي دانګریز مقابلې ته ملا وتړل. دلته د غازي صاحب خان تر مشري لاندي افغانانو دانګریزانو لاره بنده کړل.او پر انګریزانو یې حملې شروع کړي، دري ورځي سختي جګړي دوام لاره. څو دانګریز ي منظمو فرقو چي عصري توپونه او توپک یې لرل د زیاتو تلفاتو په زغمولو سره مړي پرځاي پر ښنول او بیرته دکندهار پرلور له کومه چي راغلې وه پر هغه لاره وتښتیدل.په خفګان سره باید ولیکم چي پدي دسړو او وسلو په لحاظ نا برابره جګړه کي، دوسوه افغانان دخپلو مشرانو (غازي صاحب خان او غازي پیر محمد خان) سره یوځاي شهیدان سول، پاک رب العزت دي وبخښي. په تاریخ کي وایې: چي د غازي پیر محمد خان یو لاس دجنګ په دریمه ورځ دفرنګي د توپ ګولې خورک سو خو پیر محمدخان پدغه حالت کي هم جنګ ته دوام ورکړي ویني یې تلي په یو لاس یې توره چلول څو شهیدسو. قاله اِنا ﷲِ واِناالِیهِ راجعون. داوه مجاِهدین، داسي وي غازیان چي یوازي داﷲ (ج) درضأ، اسلامي اوافغاني جذبې دهیواد، دین او ناموس دساتني په غرض یې ځانونه قرباني کړل. یوازي داﷲ (ج) مرسته ورسره وه. نه دکوم خارجي ملک پیسي اووسلي، او نه دبل ملک تحریک، تشویق، تربیه او خیرات. نه هم دمقام، چوکي، پیسو او منصب سوال ورسره وو. مولاناشبلي (رح) لیکي : چي یوورځ درسول الله (ص) څخه وپوښتل سول چي دجهاد پوره او کامل ثواب چاه ته ورکول کیږي؟ ده مبارک وفرمأیل هغه ته چي دولجي او غنیمت مال ته یې بیخي لاس نه وي وروړي.

که چیري دوستان د غازي صاحب خان او غازی پیر محمدخان په باب لږ یا زیات نورمعلومات ولري هیله ده راسره شریک یې کړي. مننه.

عبدالقیوم له امریکأ څخه.
دتلیفون:- شمیره: ۰۱-۸۰٤-۲٦٤-۷۱۳۳
دایمل ادرس: aqayum۷@gmail.com

ماخذونه: دالاندي کتابونه کتلاي سې:
۱- تاج التواریخ
۲- حقیقت التواریخ
۳- یا چهانو څه کول.
۴- محبس او قفس.
۵- حقوق


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ